د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د
افغانستان د واکمنانو پیژندنه




# د احمد شاه {بابا} تر اشرف غنی {بابا}
# پوری د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

Ketabton.com

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيْمِ

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

# ډالـۍ

هغه کسانو ته چې په خپلو هڅو يی د افغانستان تاريخ جوړ کړی

او

هغه ليکوالانو ته چې په خپلو هڅو يی د افغانستان تاريخ ليکلی او نوی نسلونه يی د تيرو حالاتو څخه خبر کړی دی

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

- ستر اعليحضرت احمدشاه بابا درانی ۱۷۴۷-۱۷۷۳ شپږويشت کاله

- تیمورشاه دورانی ۱۷۷۳-۱۷۹۳ شل کاله

- زمان شاه درانی ۱۷۹۳- ۱۸۰۱ اته کاله

- شاه محمود درانی ۱۸۰۱- ۱۸۰۴ دری کاله

- شاه شجاع درانی ۱۸۰۴-۱۸۰۹ پنځه کاله

- شاه محمود درانی دوهمه دوره ۱۸۰۹-۱۸۱۸ نهه کاله

- له ۱۸۱۹- ۱۸۳۳ افغانستان د جګړی ډګر څوارلس کاله

- دوست محمد خان ۱۸۳۴-۱۸۳۹ پنځه کاله

- شاه شجاع دوهمه دوره ۱۸۳۹-۱۸۴۲دری کاله

- ستر اتل غازي وزيرمحمد اکبرخان ۱۸۴۳-۱۸۴۶ دری کاله

---

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

- دوست محمد خان دوهمه دوره ۱۸۴۶-۱۸۶۳ وولس کاله

- امیر شیرعلی خان ۱۸۶۳-۱۸۶۶ دری کاله

- امیر محمد افضل خان۱۸۶۶- ۱۸۶۷ یو کال

- امیر محمد اعظم خان ۱۸۶۷-۱۸۶۸ یو کال

- امیرشیرعلی خان دوهمه دوره ۱۸۶۸-۱۸۷۸ لس کاله

- امیر محمد یعقوب خان ۱۸۷۸-۱۸۷۹ یوکال

- امیر محمد ایوب خان ۱۸۷۹-۱۸۸۰ یو کال

- سردار اعلیحضرت غازی امیر عبدالرحمن خان ۱۸۸۰-۱۹۰۱ یوویشت کاله

- امیر حبیب الله خان ۱۹۰۱-۱۹۱۹ اتلس کاله

- غازی شاه امان الله خان ۱۹۱۹-۱۹۲۹ لس کاله

- امیر عنایت الله خان ۱۹۲۹ د جنوری میاشت

- حبیب الله کلکانی جنوری تر اکتوبر ۱۹۲۹ نهه میاشتی

- محمد نادر شاه خان ۱۹۲۹- ۱۹۳۳ خلور کاله

- محمد ظاهر شاه ۱۹۳۳-۱۹۷۳ خلویښت کاله

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

- اعلیحضرت شهید سردار محمد داود خان ۱۹۷۳- ۱۹۷۸پنځه کاله

- نورمحمد ترکی ۱۹۷۸-۱۹۷۹ یوکال

- حفیظ الله امین ۱۹۷۹ دری میاشتی
ببرک کارمل ۱۹۷۹- ۱۹۸۶ شپږ کاله

- شهید داکتر نجیب الله احمدزي ۱۹۸۶-۱۹۹۲ شپږ کاله

- حضرت صبغت الله مجددی ۱۹۹۲ دوه میاشتی

- استاد برهان الدین ربانی۱۹۹۲-۱۹۹۶ څلور کاله

- ملا محمد عمر ۱۹۹۶-۲۰۰۱ پنځه کاله

- حامد کرزی ۲۰۰۱- ۲۰۱۴ دیارلس کاله

- ډاکټر محمداشرف غنی احمدزی ۲۰۱۴- تر اووسه.

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

احمد شاه درانی {بابا}
احمد شاه د زمان خان زوی او د دولت خان لمسی و په قوم درانی سدوزی و مور یی زرغونه نومیده احمد شاه په ۱۷۲۲ م کال په هرات کی زیږیدلی دی پلار یی د هرات واکمن و د نادر افشار د مړینې وروسته په ۱۷٤۷م کال د افغانستان پاچا شو د شپږ ویشت کاله واک وروسته په ۱۷۷۳م کال په کندهار کې وفات شو د هغی د مرګ وروسته د هغه ځوی تیمور شاه واک ته ورسید احمد شاه د پښتو ژبی شاعر و د ډهلی پوری سیمو باندی یی واکمنی وه د پاچا کیدو مخکی عسکر و ۸ زامن یی درلودل مشر ځوی سلیمان او دوهم تیمورشاه نومیده د پانی پت جګړه یی مشهوره جګړه ده چی په ۱۷٦۰م کال ترسره شوه او مرهټیانو ته یی په کې ماتې ورکړه افغانان یی په اتفاق کړل د خراسان نوم یی په افغانستان بدل کړ ټوټه ټوټه افغانستان یی یو ځای کړ د عسکرو شمیر یی یو لک ته رسیده د افغانستان لپاره یی زیات کارونه ترسره کړل او افغانانو د بابا لقب ورکړ په تخت به نه کیناسته او لونګی به یی تړله

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

تیمور شاه

تیمورشاه د احمد شاه ځوی او د زمان خان لمسی و په قوم درانی سدوزی و په ۱۷٤۸م کال مشهد کې زیږیدلې و پلار یی د افغانستان څخه تر ډهلی پوری واکمن و د احمدشاه د مړینی وروسته په افغانستان اوهند واکمن شو د شل کاله واک وروسته په ۱۷۹۳م کال کابل کې ومړ د هغی د مرګ وروسته د هغی ځوی زمان خان واک ته ورسید تیمور شاه د دری ژبی شاعر و د ډهلی پوری سیمو باندی چی احمدشاه نیولی وی واکمن و د پاچا کیدو مخکی شهزاده و د هرات والی و او ولیعهد هم و د افغانانو نه خوښیده د همدی له امله یی پایتخت کابل ته راوړ ۲٤ زامن یی و مشر ځوی یی همایون او کشر شاه شجاع و

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

### زمان خان

زمان خان د تیمورشاه ځوی او د احمد شاه لمسی و په قوم درانی سدوزی و په ۱۷۷۰م کال هرات کې زیږیدلی و د تیمور شاه د وفات وروسته په ۱۷۹۳م کال د افغانستان پاچا شو د اته کاله واکمنی وروسته په ۱۸۰۱م کال د شاه محمود لخوا ړوند شو او په ۱۸٤٤م کال هندوستان کې وفات شو د ایران او پنجاب سره جګړی د هند کمپنی لخوا د هندوستان د ځینو سیمو نیول د تیمور شاه زامنو کې تر ټولو تکړه کس همدا و خو د ورونو د مخالفت له امله یی کوم خدمت ونکړ همایون په کندهار یرغل وکړ ده هم همایون ونیو او ړوند یی کړشاه زمان ته ایران او برتانیه یو ځای شوی و او ورونه یی ورسره د واک په سر په جګړه اخته کړل

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

## شاه محمود

شاه محمود د تیمور شاه ځوی او د احمدشاه لمسی و په قوم سدوزی دورانی و په ۱۷٦۹م کال په هرات کې زیږیدلی و په ۱۸۰۱م کال یی شاه زمان ړوند کړ او واک یی ترلاسه کړ د دری کاله واک وروسته په ۱۸۰٤م کال ورڅخه شاه شجاع پاچاهئ ونیوله د یو ځل بیا په ۱۸۰۹م کال د شاه شجاع څخه  د افغانستان واکمنی ترلاسه کړه د نهه کاله واکمنی وروسته په ۱۸۱۸م کال کورنئ جګړه پیل شوه او د د پاچاهئ په کې ختمه شوه په ۱۸۲۹م کال وفات شو د پاچا کیدو مخکی شهزاده د هرات حاکم و د شاه زمان سره یی مخالفت وکړ ایران ته یی پناه وړی وه ایران د شاه زمان خلاف راوپارو او د فتح خان په مرسته یی شاه زمان مات کړ د شاه شجاع څخه چې یی کله ماتی وخوړه هند ته وتښتید او وروسته بیا د انګریز او فتح خان په مرسته یی شاه شجاع مات کړ او د افغانستان واک یی ترلاسه کړ

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

شاه شجاع د تیمور شاه ځوی او د احمدشاه لمسی و په قوم سدوزی دورانی و په ۱۷۸۵م کال کابل کې زیږیدلی و پلار یی د افغانستان پاچا و په ۱۸۰٤م کال کې یی د شاه محمود څخه واک ترلاسه کړ د پنځه کاله واک وروسته په ۱۸۰۹م کال د شاه محمود څخه یی ماتی وخوړه او هند ته وتښتید په ۱۸۳۹م کال یی بیا د رنجیت سنګ او انګریزانو په مرسته د دوست محمد خان څخه واک ترلاسه کړ په ۱۸٤۲م کال د نواب زمان خان ځوی شجاع الدوله لخوا ووژل شو او وزیر محمد اکبر خان د افغانستان پاچا شو شاه شجاع د پاچا کیدو مخکی د کشمیر والی و دا پرمختګ خوښونکی انسان و د انګریز سره یی د لومړی ځل لپاره د سولی تړون لاسلیک کړ د د سند هغه سیمی ونیولی چی بغاوت په کې شوی و دوه کاله کورنیو جګړو په سر راخیستی و کله چی هند ته وتښتید وروسته یی د انګریزانو او سکانو سره تړونونه وکړل دکال دوه لکه افغانی او پنځه زره لښکری به انګریزانو ته ورکوی د کشمیر تر خیبر پوری سیمی یی پریښودی په افغانستان کی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

یو انګریزی هیأت او انګریزی لښکری به اوسیږی د انګریزانو په مرسته یی د افغانستان واک ترلاسه کړ او افغانستان ته یی انګریزان داخل کړ د واک حرص هغه په افغانانو کې زیات وشرموو وروسته په خپل کړی کار پښیمانه شو په ۱۸٤۲م کال یی د انګریز سره د جګړی لپاره لښکر برابر کړ خو د بالاحصار څخه د لښکر په لور روان و چی د شجاع ادوله د خپل لښکر سره پری برید وکړ او ووژه د ملا عاشق څخه یی کوه نور الماس واخیستل او هغه یی ووژه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پېژندنه

امير دوست محمد خان { امير كبير }
امير دوست محمد خان د پاینده خان ځوی و او د یحی خان لمسی و په قوم بارکزی و په ۱۷۹۳م کال قندهار کې زیږیدلی و په ۱۸۳٤م کال یی واک ترلاسه کړ د څلور کاله واک وروسته په ۱۸۳۹م کال ورڅخه شاه شجاع پاچاهی ترلاسه کړه بخارا ته لاړ وروسته د شاه شجاع خلاف د جګړی لپاره راغلی ماتی یی وخوړه انګریزانو ته یی ځان تسلیم کړ انګریزانو په هند کې د ځان سره نظر بند کړ په ۱۸٤٦م کال د هند څخه راغلی او په کابل کې پاچا شو د اووه لس کاله واک وروسته په۱۸٦۳م کال په هرات کې مړ شو او پر ځای یی امير شيرعلی خان د افغانستان پاچا شو امير دوست محمد خان د پاچا کیدو مخکی د رنجیت سنګ سره جګړی کولی امير دوست محمد خان شل ورونه شپاړس میرمنی دوه پنځوس اولادونه یی درلودل د په ۱۸۵۵م او۱۸۵۷م کال د جمرود په نامه دوه تړونونه د انګریزانو سره لاسلیک کړل چی له مخی به یی د یو بل سره مرسته کوی

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

## غازی وزير محمد اکبر خان

وزير محمد اکبر خان د امير دوست محمد خان ځوی او د پاينده خان لمسی و په ۱۸۱٦م کال زيږيدلی و پلار يی د افغانستان امير و په ۱۸٤۳م کال د شاه شجاع د وژل کيدو وروسته د افغانستان پاچا شو د انګريزانو سره يی کابل کې جګړه وکړه د شپاړسوه انګريزی لښکر څخه يواځی يو کس وتښتيد او نور ووژل شول تر دری کاله واک وروسته کله چی امير دوست محمد خان د هند څخه کابل ته راغی د هم واک هغه ته پريښود په ۱۸٤٦م کال مزار شريف کې وفات شو د پاچا کيدو مخکی وزير و انګريزانو ته يی سرسخته ماتی ورکړه

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

امیر شیرعلی خان

امیر شیرعلی خان د امیر دوست محمد خان ځوی او د پاینده خان لمسی و په قوم بارکزی و مور یی بی بی خدیجه نومیده میرمن یی عایشه نومیده په ۱۸۲۵م کال زیږیدلی و پلار یی د افغانستان امیر و د امیر دوست محمد خان د مرګ وروسته په ۱۸٦۳م کال د افغانستان امیر وټاکل شو د دری کاله واک وروسته  په ۱۸٦٦م کال د عبد الرحمن خان او محمد اعظم خان لخوا ماتی وخوړه امیر شیرعلی خان په ۱۸٦۸م کال بیرته محمد اعظم خان ته ماتی ورکړه او د لس کاله واک وروسته په ۱۸۷۸م کال په مزار شریف کی وفات شو د هغی د مرګ وروسته یعقوب خان واک ته ورسید امیر شیرعلی خان د پاچا کیدو مخکې د هرات حاکم د کندهار حاکم او ولیعهد و د افغانستان لومړی پاچا و چی پتلون او دریشی یی واغوسته په چوکۍ او میز به یی ډوډی خوړه عصبی سړی و سګرټ یی څښل او د انګریزانو یی ډیره کرکه درلوده د روسی سره یی په شمال کې سرحدونه وټاکل لومړی ځل لپاره د حربی ښوونځی او یو ملکی ښوونځی جوړ شو د شمس النهار اخبار خپور شو د چاپ ماشین افغانستان ته راوړل شو روزل شوی فوځ جوړشو د بیلا بیلو وزارتونو لپاره د کدر وړکسان وګومارل شو افغانستان یی په پنځه ولایتونو کابل ولایت کندهار ولایت هرات ولایت افغانی ترکستان او فراه ولایتونو وویشه د خپل ځوی  چې دولس کلن و ولیعهد ټاکلی و په دې کار تری یعقوب خان خپه شو یعقوب خان یی بندی کړ

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

امیر محمد افضل خان

امیر محمد افضل خان د امیر دوست محمد خان ځوی او د پاینده خان لمسی و په قوم بارکزی و په ۱۸۱۱م کال زیږیدلی و پلار یی د افغانستان امیر و د امیر شیرعلی خان سره یی جګړه وکړه ماتی یی وخوړه او زندانی شو د د ځوی عبدالرحمن خان او ورور یی محمد اعظم خان  شیرعلی خان ته ماته ورکړه دا یی د زندانه راوویست او په ۱۸٦٦م کال یی د افغانستان پاچا کړد یو کال واک وروسته په  ۱۸٦۷م کال د وریپښی ناروغی له امله وفات شو د هغی د مرګ وروسته د هغه ورور محمد اعظم خان واک ته ورسید محمد افضل خان د پاچا کیدو مخکې د زرمت او کټوازو مشر و شهزاده هم و

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

### امیر محمد اعظم خان

امیر محمد اعظم خان د امیر دوست محمد خان ځوی او د پاینده خان لمسی و په قوم بارکزی و مور یی د ملا صادق خور وه په ۱۸۲۰م کال افغانستان کې زیږیدلی و پلار یی د افغانستان امیر و په ۱۸٦۷م کال د امیر محمد افضل خان د مرګ وروسته د افغانستان پاچا شو د یو کال واک وروسته امیر شیرعلی خان ترې واک ترلاسه کړ دا ایران ته وتښتید او په ۱۸٦۹م کال په ایران کې وفات شو د پاچا کیدو مخکی شهزاده او د لوګر حاکم و د امیر شیرعلی خان څخه یی د امیر عبدالرحمن خان په مرسته واک ترلاسه کړ او امیر محمد افضل خان ته یی ورکړ په خپله پاچاهۍ کې یی سید جمالدین افغان لومړی معاون ټاکلی و

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

### امیر محمد یعقوب خان

امیر محمد یعقوب خان د امیر شیرعلی خان ځوی او د امیر دوست محمد خان لمسی و په قوم بارکزی و په ۱۸٤۹م کال افغانستان کی زیږیدلی و پلار یی د افغانستان امیر و د شیرعلی خان د مرګ وروسته د زندان څخه راوویستل شواو په ۱۸۷۸م کال پاچا شو د یو کال واک وروسته په ۱۸۷۹م کال استعفا ورکړه هند ته لاړ او ایوب خان پاچا شو په ۱۹۲۳م کال هند کی وفات شو د پاچا کیدو مخکی د هرات والی و تکړه او جنګیالی و په ۱۸۷٤م کال د امیر شیرعلی خان لخوا بندی شو کله چی د زندان راووت زهنی ناروغی پیدا کړی وه د انګریزانو سره یی د ګندمک معاهده لاسلیک کړه

غازی محمد ایوب خان { د میوند فاتح }

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

غازی محمد ایوب خان د امیر شیرعلی خان ځوی او د امیر دوست محمد خان لمسی و په قوم بارکزی و مور یی مومند نومیده  په ۱۸۵۷م کال کابل کې زیږیدلی و پلار یی د افغانستان امیر و د یعقوب خان څخه وروسته په۱۸۷۹م کال د افغانستان پاچا شو د یو کال واک وروسته تری عبدالرحمن خان پاچاهی ونیوله دا برتانوی هند ته لاړ په ۱۹۱٤م کال په لاهور کی وفات شو او پیښور کې ښخ شو د پاچا کیدو مخکې د انګریزانو سره په میوند کې د جنګ قومنده د د په لاس کې وه او د هرات حاکم هم تیر شوی و

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

امیر عبدالرحمن خان {ضیاء الملة والدین }

امیر عبدالرحمن خان د امیر محمد افضل خان ځوی او د امیر دوست محمد خان لمسی و په قوم بارکزی و د کال ۱۸٤۰م او ۱۸٤٤م کالو تر منځ زیږیدلی و پلار یی د افغانستان امیر و د محمد یعقوب خان څخه یی په ۱۸۸۰م کال واک ترلاسه کړ د یویشت کاله واک وروسته په۱۹۰۱م کال کابل کې وفات شو د هغه د مرګ وروسته د هغی ځوی حبیب الله خان د افغانستان پاچا شو د ډیورند معاهده یی د انګریزانو سره لاسلیک کړه د کافرستان ولایت یی ونیو او د نورستان په نوم یی یاد کړ د ډیورند تر کرښی پوری یی واکمنۍ وه د واک مخکی په بخارا سمرقند او تاشکند کې د روسی د نظارت لاندی اوسیده مرکزی حکومت یی جوړ کړ بغاوتونه یی ختم کړل د استخباراتو اداره یی جوړه کړه غلو لوټمارانو او هغه خلک چې د قانون یی سرغړاوی کوو سختی سزاګانې یی ورکړی

امیر حبیب الله خان {سراج الملة والدین}

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

امیر حبیب الله خان د امیر عبدالرحمن خان ځوی او د امیر محمد افضل خان لمسی و په قوم بارکزی وډیری زیاتی ښځی یی کړی وی په کال ۱۸۷۲م د ازبکستان په تاشکند کې زیږیدلې دی پلار یی د افغانستان امیر و د خپل پلار د مړینې وروسته په ۱۹۰۱م کال د افغانستان امیر شو د اتلس کاله واک وروسته په ۱۹۱۹م کال د لغمان په کله گوش کې ووژل شو د هغه د وژل کیدو وروسته د هغی ځوی امان الله خان د افغانستان پاچا شو امیر حبیب الله خان د پاچا کیدو مخکی شهزاده و د ډیورند پوری سیمو باندی واکمن و لومړی ورځپانه د سراج الاخبار په نامه د د په وخت کې نشر شوه لومړی نړیوال جنگ د د په وخت کې ترسره شو د افغانستان بی طرفه اعلان کړ د لومړی ځل لپاره موټر افغانستان ته راوړل شو کابل کې د هند موقت حکومت جوړ شو

غازی امیر امان الله خان { د ازادی اتل}

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

غازی امير امان الله خان د امير حبيب الله خان ځوی او د امير عبدالرحمن خان لمسی و په قوم بارکزی و مور يی ملکه سلطان بيگم او ميرمن يی ثريا نوميده په ۱۸۹۲م کال د کابل په پغمان کې زيږيدلی و پلار يی د افغانستان امير و د خپل پلار د مرگ وروسته په ۱۹۱۹م کال پاچا شو د لس کاله واک وروسته په ۱۹۲۹م کال استعفا ورکړه او د د ورور عنايت الله خان د افغانستان پاچا شو امان الله خان ايټاليی ته لاړ په ۱۹٦۰م کال د سوزرلنډ د زوريخ په يو روغتون کې وفات شو او د ننگرهار جلال اباد ښار کې ښخ شو د پاچا کيدو مخکې شهزاده و د افغانستان خپلواکي يی ترلاسه کړه مرکه د پښتو په نوم يوه غونډه يی جوړه کړه اساسی قانون يی جوړ کړ راډيو افغانستان ته راوړل شوه په زياتو پرختيايی پروژو کار پيل وکړ هلکان او انجونی يی ترکی ته د لوړو زده کړو لپاره واستولی د ښځو لپاره يی ښوونځی جوړ کړل اروپا ته لاړ هلته يی د ډيرو هيوادونو سره اقتصادی تړونونه لاسليک کړل او داسی نور زيات کارونه يی ترسره کړل سرکونه يی جوړ کړل

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

### امير عنايت الله خان {معين السلطانه }

امير عنايت الله خان د امير حبيب الله خان ځوی او د امير عبدالرحمن خان لمسی و په قوم بارکزی و مور يی جمال بيګم نوميده په ۱۸۸۸م کال په کابل کې زيږيدلی و پلار يی د افغانستان امير و د خپل ورور امان الله خان د استعفا ورکولو وروسته په ۱۹۲۹م کال پاچا شو د دری ورځو پاچاهي وروسته حبيب الله کلکانی کابل محاصره کړ ده هم استعفا ورکړه او د ايران تهران ته لاړ په ۱۹٤٦م کال په تهران کې وفات شو د پاچا کيدو مخکې شهزاده و غوره اخلاق يی درلودل د رشوت نه اخيستلو باندی مشهور و

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

### حبیب الله کلکانی { بچه سقاو،خادم دین الرسول الله ،عیار خراسان }

امیر حبیب الله کلکانی د عبد الرحمان ځوی دی تاجک و دوه میرمنی یی درلودی چې بی بی سروری سنګری او بی نظیر نومیدی په ۱۸۹۰م کال کابل کې زیږیدلی و د امان الله خان دپاچاهی د ختمولو لپاره یی جګړه شروع کړه په ۱۹۲۹م کال د عنایت الله خان د استعفا وروسته واک ترلاسه کړ د نهه میاشتو واک وروسته د نادرشاه لخوا په ۱۹۲۹م کال کابل کې ووژل شو امیر حبیب الله خان د پاچا کیدو مخکی غلا کوله پلار یی په سقاو مشهور و افغانستان یی د تباهې کندی ته وارتوو خلکو ته یی مالیی معاف کړی د انګریز سفارت څخه بغیر نور ټول سفارتونه یی وتړل او ډیر زیات خلک یی ووژل امان الله خان هڅه وکړه چې سوله ورسره وکړی خو ونشوه

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

### امیر نادرشاه

امیر محمد نادرشاه د یوسف خان ځوی او د یحی خان لمسی و په قوم بارکزی و په ۱۸۸۳م کال د هند په دهرادون کې زیږیدلې و د حبیب الله کلکانی څخه یی په ۱۹۲۹م کال حکومت ترلاسه کړ د څلور کاله واک وروسته په ۱۹۳۳م کال د عبدالخالق په نوم د یو محصل لخوا په کابل کې د توپانچې په واسطه ووژل شو د هغی د مرګ وروسته د هغی ځوی ظاهر شاه واک ته ورسید د پاچا کیدو څخه مخکی د امان الله خان په وخت کې د جنګ وزیر ود کابل ښار یی پاک کړ د پرمختګ هڅی یی شروع کړی د ازادی په جنګ کې سپه سالار و ډیر تکړه سړی و افغانستان ته یی زیات خدمت ترسره کړ

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

امیر محمد ظاهر شاه {د ملت بابا}
امیر محمد ظاهر شاه د امیر نادرشاه ځوی او د یوسف خان لمسی و په قوم بارکزی و میرمن یی ملکه حمیرا نومیده په۱۹۱٤م کال کابل کې زیږیدلی و د پلار د مرگ وروسته یی په ۱۹۳۳م کال د ۱۹ کالو په عمر پاچا شو د څلویښت کاله واک وروسته په ۱۹۷۳م کال د داود خان لخوا پری هغه وخت کودتا وشوه چی دا په ایټالیا کی و د هم استعفا ورکړه او په ایټالیا کی میشت شو د حامد کرزی په وخت کی کابل ته راغلی اوپه ۲۰۰۷م کال کابل کې وفات شو د پاچا کیدو مخکی شهزاده و دویم نړیوال جنګ د د په وخت کې ترسره شو چی افغانستان ځان بی طرفه اعلان کړ د د پاچاهۍ کې زیات امنیت و دموکراسی هم وه پاکستان د د په وخت کې جوړ شو د ایران سره د اوبو ستونزه د د په وخت کې د موسی شفیق لخوا حل شوه زیات د برښنا بندونه سرکونه فابریکی او نوری پراختیایی پروژی ترسره شوی خو د د په حکومت کې قحطی ډیره وه

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

ولسمشر محمد داود خان
ولسمشر محمد داود خان د عزيز خان ځوی او د يوسف خان لمسی و په قوم بارکزی و ميرمن يی زينب نوميده په ۱۹۰۹م کال کابل کې زيږيدلی و په ۱۹۷۳م کال يی په امير محمد ظاهر شاه کودتا وکړه او واک يی ترلاسه کړ د پنځه کاله واک وروسته په ۱۹۷۸م کال پری د خلق دموکرات ګوند لخوا کودتا وشوه او په ارګ کې ووژل شو د ولسمشر کيدو مخکې د دفاع وزير او صدراعظم و اووه اولادونه يی درلودل خالد، عمر، ويس، زرلښته ،تورپيکۍ، شينکۍ او درخانۍ نوميدل د د واک په وخت کې د لومړی ځل لپاره انتخابات رامنځته شو امنيت ډير ښه و زياتی اقتصادی او پرختيايی پروژو باندی کار پيل شو خلکو ته د دموکراسی اجازه ورکړل شوه د روس او امريکی دواړو سره يی اړيکی پاللی د داود پاچاهی د افغانستان تر ټولو غوره پادشاهۍ يادېږی داود خان عصبی سړی و د پښتونخوا غوښتونکی و او د پښتونخوا ترلاسه کولو لپاره يی هڅی کولې په اخر کې د برژنيف سره لفظی

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

شخړه وکړه ویل به یی زه روسی سګرټ په امریکایی اور لیټر بلوم د د په وژل کیدو کې د روسی لاس و د دې د وژل کیدو وروسته په افغانستان کې انقلاب رامنځته شو چې تر اوسه روان دی

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

نورمحمد ترکی

نورمحمد ترکی د خاتم افغان کمالی ځوی دی په قوم نوکندی دی مور یی سعیده طوسانی نومیږی دري میرمنې یی درلودی راضیه حسنیه او عالیه نومیدی په ۱۹۱۷م کال په غزنی کې زیږیدلی و په ۱۹۷۸م کال یی په داود خان کودتا وکړه او واک یی ترلاسه کړ د یو کال واک وروسته په ۱۹۷۹م کال د حفیظ الله امین لخوا په کابل کی ووژل شو د پاچا کیدو مخکی لیکوال و او د حزب دموکرات خلق افغانستان مشر و تاج محمد او نسیم یی زامن و

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

### حفیظ الله امین

حفیظ الله امین د حبیب الله ځوی و په ۱۹۲۱م کال کابل کې زیږیدلی و پلار یی د زندان مشر و په ۱۹۷۹م کال یی په نورمحمد تره کی کودتا وکړه او واک یی ترلاسه کړ د دری میاشتو پاچاهی وروسته کابل کې ووژل شو او ببرک کارمل واک ته ورسید د پاچا کیدو مخکې د خلق دموکرات ګوند غړی و معلم د ښوونځی مدیر او وروسته د یو امریکایی موسسی سره کار کوو په بورس کې امریکی ته لاړ هلته یی لوړی زده کړی وکړی د د په وخت کې هم انقلاب و د دی وژل کیدو سره سم روسانو په افغانستان حمله وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

### ببرک کارمل

ببرک کارمل د محمد حسین خان ځوی او د محمد هاشم لمسی و په قوم تاجک و په ۱۹۲۹م کال کابل کې زیږیدلی و پلار یی د پکتیا والی و په ۱۹۷۹م کال د حفیظ الله امین د وژل کیدو وروسته د روسانو لخوا د افغانستان پاچا وټاکل شو د شپږ کاله واک وروسته د روسانو لخوا د واک لرې شو او نجیب یی پر ځای وټاکل شو په ۱۹۹٦م کال په مسکو کې وفات شو او د حیرتانو کې خښ شو د پاچا کیدو مخکی د پرچمیانو ګوند مشر د صدراعظم مرستیال او سفیر و دا د روسانو سره یو ځای راغلی روسانو ته ډیر وفاداره و ډیر پښتانه یی ووژل مشروبات یی څښل د دویم شاه شجاع په نوم یادیده د واک حریص و مکار او فریبګر انسان و افغانستان یی د تباهی سره مخ کړ په اولادونو یی روسی نومونه ایښی و د خلق دموکرات ګوند سره یی خرابی اړیکی درلودی یو ځل بندی شوی و

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

ډاکټر نجيب الله احمدزی

ډاکټر نجيب الله احمدزی د اخترمحمد ځوی و په قوم احمدزی و په ١٩٤٧م کال پکتيا کې زيږيدلی و په١٩٨٦م کال د ببرک کارمل د استعفا وروسته د افغانستان پاچا شو د شپږ کاله واک وروسته په ١٩٩٢م کال کې پاچاهۍ ړنګه شوه او صبغت الله مجددی د افغانستان پاچا شو نجيب الله په بين المللی کې پناه واخيسته په ١٩٩٦م کال د طالبانو حکومت لخوا په زور د بين المللی دفتر څخه راوويستل شو او کابل کې اعدام شو د پاچا کيدو مخکی د خاد ريس د خلق دموکرات ګوند ويااند په ايران کې سفير او ډاکټر و دا چی کله د خاد ريس و زياتی ډله يزی وژنی وشوی خو د پاچاهی په وخت کې يی د سولی لپاره هلی ځلی کولی روسان يی مجبور کړل چی د افغانستان څخه ووځی د ډيورند کرښی د نه لاسليکولو په بدل کې اعدام شو په وروستيو کی يی زيات کارونه ترسره کړل سياسی بنديان يی ازاد کړ يو طرفه اوربند يی اعلان کړ بيرته افغانستان ته پنځه ميليونه مهاجر راستانه شو دموکراسی ته يی

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

خاص ځای ورکړ د وسلو ټولولو کمپاین یی شروع کړ نوی اساسی قانون یی جوړ کړ او داسی نور زیات کارونه یی ترسره کړل دری لورګانی یی درلودی هیلۍ ، اونی او موسکا نومیدی په ډیر بد ډول کابل کې اعدام شو دوه ځل بندی شوی هم و

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

### صبغت الله مجددی

صبغت الله مجددی د محمد معصوم مجددی ځوی و په ۱۹۲۵م کال کابل کی زیږیدلی و د مجددی د کورنۍ څخه و په ۱۹۹۲م کال د مجاهدینو د ترون د مخی او د نجیب د حکومت د راپارزولو وروسته پاچا شو د دوو میاشتو واک وروسته یی واک برهان الدین ربانی ته پریښود او په ۲۰۱۹م کال کابل کې وفات شو د پاچا کیدو مخکی د مجاهدینو قومندان و د روسانو خلاف یی جهاد کولو د حامد کرزی په وخت کی د مشرانو جرگی مشر و

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پېژندنه

### برهان الدين ربانی

برهان الدين ربانی د محمد يوسف ځوی و په قوم تاجک و په ۱۹٤۰م کال بدخشان کې زيږيدلې و په ۱۹۹۲م کال د صبغت الله مجددی واک پرييښودو وروسته د افغانستان پاچا شو د څلور کاله واک وروسته تری واک ملا محمد عمر ترلاسه کړ په ۲۰۱۱م کال کابل کې په ځانمرګی بريد کې ووژل شو د پاچا کيدو مخکی د مجاهدينو قومندان و او د جمعيت اسلامی مشری يی کوله د ځوانانو د نهضت مشر و د د په وخت کې د مجاهدينو خپل منځی جګړې وی فساد زيات شوی و دری اولادونه لری شجاع الدين ، صلاح الدين او فاطمه نوميږی په ۲۰۰۱م کال بيا د افغانستان واک ترلاسه کړ خو د لنډی مودی لپاره او بيرته يی واک حامد کرزی ته پرييښود پنځه کاله ولسی جرګه کې د بدخشان د خلکو استازی و وروسته يی د سولی راوستو لپاره هلی ځلی کولی او د سولی لار کې شهيد شو د سولی عالی شورا مشر و

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد
ملا محمد عمر د غلام نبی ځوی و په قوم هوتک و په ۱۹۵۹م کال کندهار کې زیږیدلی و پلار یی عالم و په ۱۹۹٦م کال یی د برهان الدین ربانی څخه واک ترلاسه کړ د ۵ کاله واک وروسته په ۲۰۰۱م کال د امریکی او نړیوالو ځواکونو له لوری په افغانستان حمله وشوه او حامد کرزی پاچا شو په ۲۰۱۵م کال د پاکستان کراچی کې وفات شو د پاچا کیدو مخکی ملا او مجاهد و د د په وخت کې افغانستان کې فساد له منځه لاړ جګړه کابو شوه اسلامی قانون نافذ شو خو حکومت یی یواځی څو هیوادونو په رسمیت وپیژنده بین المللی د افغانستانه ووته ډاکتر نجیب یی اعدام کړ د اسلام په نامه ځینی کارونه ترسره شو چې د دوی نوم یی بدنام کړ په ښځو یی د زده کړو بندیز ولګوو دموکراسی یی ختمه کړه عالم و اوسامه بن لادن ته یی افغانستان کې پناه ورکړه چې د طالبانو د حکومت د پرځیدو لامل شوه د پاکستان isi او عربستانی خلک امریکایی استخبارات او نور استخبارات یی په حکومت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

## ځای نیولی و د واک ختمیدو وروسته یی د امریکا او افغان حکومت سره جګړه پیل کړه

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

جمهور ریس حامد کرزی
ولسمشر حامد کرزی د عبدالاحد کرزی ځوی او
د خیر محمد خان لمسی دی په قوم پوپلزی دی
میرمن یی زینت کرزی نومیږی په ۱۹۵۷م کال
قندهار کی وزیږید په ۲۰۰۱م کال کې د امریکا
په مرسته د ملا محمد عمر څخه د افغانستان
حکومت ترلاسه کړ د دری کاله موقتی اداری
وروسته د انتخاباتو د لاری د افغانستان ولسمشر
وټاکل شو د موقتی اداری د کالونو سره د دیارلس
کاله واک وروسته په خپله خوښه حکومت
پریښود او د د وروسته ډاکټر محمد اشرف غنی د
انتخاباتو د لاری د افغانستان ولسمشر شو حامد
کرزی ژوندی دی او په کابل کې اوسیږی د
ولسمشر کیدو مخکې د جبهی د ګوند کمیشنری
سره یی ارتباط لرل شپږ ورونه او یوه خور لری
یو ځوی او دوه لورګانې لری میرویس ملالۍ او
هوسۍ نومیږی د انتخاباتو ترسره کیدل نوی
اساسی قانون جوړول لویه جرګه راغوښتل
دموکراسی عامول افغانستان کې ښځو ته د زده
کړو زمینه برابرول په افغانستان کې د فابریکو

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

جوړول بهرنيو هيوادونو سره د سوداگريزو اړيکو ټينگول او داسی نور ډير کارونه ترسره کړل خو په افغانستان کې يی جگړه ختمه نه کړه امريکا او نور بهرنۍ ځواکونه افغانستان ته راغلل چی د افغانانو د مخالفت سره مخ شو او په افغانستان کې د طالبانو او بهرنيو هيوادونو تر منځ جگړه ونښته حکومت د بهرنيو ځواکونو ملاتړ وکړ

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

ولسمشر محمد اشرف غنی {بابا}
ولسمشر محمد اشرف غنی د شاه جهان ځوی دی په قوم احمدزی دی میرمن یی رولاغنی نومیږی په ۱۹٤۹م کال لوګر کې زيږيدلی دی پلار یی په کابل کې د ټرانسپورټ شرکت درلود اشرف غنی په ۲۰۱٤م کال د انتخاباتو له لاری د افغانستان ولسمشر وټاکل شو خو د عبدالله عبدالله سره یی د ملی یووالی حکومت جوړ کړ په ۲۰۱۹م کال بیا ټاکنی وشوی او د د افغانستان واک تر لاسه کړ تر اوسه ولسمشر دی د ولسمشر کیدو مخکی په نړیوال بانک کی دنده درلوده او د مالیی وزیر هم پاتی شوی د افغانستان لخوا د بین المللی مشری ته هم نوماند و خو د بان کي مون څخه وروسته شو د ملګرو ملتونو سره د سلاکار دنده یی هم ترسره کړی نوموړی لیکوال هم دی او د ناکامو دولتونو سمونه ،د عادلانه نظام لار په نوم کتابونه یی لیکلی دی دینی زده کړی یی په کراچی کې کړی دی یو ځوی او یو لور لری چی طارق او مریم نومیږی ښاغلی غنی وایی زه د امان الله خان په تګ لاره ځم د د په وخت کې افغانستان

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پېژندنه

زیات پرمختګ وکړ د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې تړون ترسره کېدل د اروپایی هیوادونو سره سوداګریزی اړیکی ټینګول ایران ته د ریل پټلی لاره جوړول اروپا ته د لاجوردو لار جوړول د ډیورند په کرښه د پاکستان لخوا د اغزن سیم تیرول د جګړې شدت او داسی نوری ډیری پیښی ترسره شوی د سولې راوستلو لپاره هڅی کله چی د مالیی وزیر و په ختیځه اسیا کی تر ټولو تکړه د مالیی وزیر نومول شوی و د نړی په مشهورو پوهنتونونو کې ښوونکی و د کابل د پوهنتون مشر هم و

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پيژندنه

تيروتنې په لاندې ادرس راواستوئ

safi.idris1234@gmail.com

ليکوال ادريس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

مأخذونه

د افغانستان لنډ تاریخ

لیکوال: پوهاند عبد الحی حبیبی

د افغانستان په معاصر تاریخ یوه لنډه کتنه

لیکوال :کاندید اکاډمیسین محمد ابراهیم عطایی

انټرنیټ

فارسی ویکیپېډیا

پښتو ویکیپېډیا

انګلیسې ویکیپېډیا

لیکوال ادریس ساحل صافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د احمد شاه {بابا}تر اشرف غنی {بابا} پورې د افغانستان د واکمنانو پیژندنه

د لیکوال لنډه پیژندنه

ادریس ساحل صافی دمحمد نظیر صافی ځوی او د اکرم جان صافی لمسی دی په ۲۰۰٤م کال د کونړ ولایت اسعداباد ښار کې زیږیدلی دی اصلي د کونړ ولایت وټه پور ولسوالي اوسیدونکي دی تر ځلورم ټولګي پورې یی په سلیم خان عالي لیسه کې زده کړی کړی د هغه وروسته یی تر لسم ټولګي پورې زده کړی د شیخانو متوسطه ښوونځی کې کړی او اوس د عمراخان عالي لیسې د دولسم ټولګی زده کوونکی دی

لیکوال ادریس ساحل صافی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**